(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسم الله الرحمٰن الرحيم

### عقيدۀ دختم نبوت ......................... (نظم 01)

دَ ختم نبوت حسينه ښکلي عقيدۀ
ورسره منوَره دَ هرچا پوره سينه
لازم دي په هرچا چي ئي په دغي وي ايمان
يقين په دي ساتل دی هر ساعت په مسلمان
دَ حشر دَ محشر دَ پاره لويه ده توښه
دَ ختم نبوت حسينه ښکلي عقيدۀ
ثابته له قرآن نه ښه واضحه برابر
نازل ده له سبحان نه ښه واضحه برابر
سمه ده په محشر کښي دَ ګلونو ګلدسته
دَ ختم نبوت حسينه ښکلي عقيدۀ
ثابته له حديث نه دَ نبي خير الابرار ﷺ
ثابت له احاديث نه دَ نبيانو دَ سردار ﷺ
شيطان ورسره دلته په مور خفه خفه
دَ ختم نبوت حسينه ښکلي عقيدۀ
ده بنده سلسله ورسره تل دَ نبوت
ده بنده سلسله ورسره تل د رسالت
قيامت پوري دا بنده قدرمنده سلسله
دَ ختم نبوت حسينه ښکلي عقيدۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه سوه نه زيات په دي خبره حديثونه دي
نيشه لوئي مقام دَ پاك نبي ﷺ په لوئي مقام پسے
نۀ راځي نبي ﷺ به په نبي خير الانام ﷺ پسے
تول دي صحابه رض په دي خبره متفقه ، يَو
تول دي صحابه رض په دي خبره متحده ، يَو
نيشه بل رسول په محمد ﷺ ماوِ تمام پسے
نۀ راځي نبي ﷺ به په نبي خير الانام ﷺ پسے
بس دغه كافي دي اے احمده ! دليلونه تول
بس دے بس كافي دي هر بشر له حجتونه تول
نيشته بل يو دين بل شريعت په دين اسلام پسے
نۀ راځي نبي ﷺ به په نبي خير الانام ﷺ پسے

..............................................................

هله ايمان به دي كامله وي.................... ( نظم 40)

هله ايمان به دي كامله وي چي دا اُومنے
خاتم النبيين چي سيَد الورئ ﷺ اُومنے
صرف په دي نه ده چي تۀ صرف مونځونه كوے
تسبيح په لاسو كبني ساتي او چي ذكرونه كوے
په تا لازم دى چي ته حق تول خامخا اُومنے
خاتم النبيين چي سيَد الورئ ﷺ اُومنے
صرف په دي نه ده چي حج له بيت اللّٰه ته لاړ شے

ختمِ نبوت ده عقیده....................(نظم 82)

دَ کامیابي زمونږ دَ ټولو وسیله
ختمِ نبوت ده عقیده
کۀ کامیابي غواړي څوک
ژوند زندګی غواړي څوک
کول نیکی غواړي څوک
ختمول بدي غواړي څوک
اعلا اعلادي عمل ده ذریعه
ختمِ نبوت ده عقیده
یاکۀ سکون ته ۀ غواړې
ښکلي ژوندون کۀ غواړې
دَ حق لټون کۀ غواړې
ژوند کښې بدلون کۀ غواړې
پکار ده دلته وسیله درنه درنه
ختمِ نبوت ده عقیده
دَ حق رڼا طالبه!
اے دَ ښُکلا طالبه!
اے دَ عبقرئ طالبه!
اے دَ رښتیا طالبه!
ده بهترینه ښه اعلا درلته توښه

